# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


ژباړه: ولي

سوم فبروری ۲۰۱۲

## د امریکا امپریالیزم کاغذي پړانګ دی

۱۴ جون ۱۹۵۶

مائوتسه دون

ژباړه: ولي

متحده ایالتونو پر نورو هیوادونو د تیري لپاره، په هر ځای کي کمونیستي ضد بیرغ پورته کړی دی. هغه نه یوازې د لاتیني امریکا، آسیا او افریقایي هیوادونو، بلکي د اروپا او اقیانوسیه هیوادونو پوروړی هم دی. ټوله نړی، د انګلستان په ګډون، د متحده ایالتونو څخه بیزاره ده. جاپان له متحده ایالتونو څخه بیزاره دی، ځکه پر هغه باندې ستم کوي. د ختیځ هیڅ یو هیواد هم د امریکا له تیري څخه بچ نه دی. متحده ایالتونو زموږ پر تایوان ولایت باندې تیری وکړ. جاپان، کوریا، فیلیپین، ویتنام او پاکستان ټول د امریکا له تیري رنځمن دي، که څه هم له دوی ځیني یې د امریکا متحدین دي. خلک ناراضي دي او په یو شمیر هیوادونو کي چارواکي یې هم ناراضي دي.

د ستم تر لاندي ټول ملتونه خپلواکي غواړي.

ټول شیان د بدلون تابع دي. فاسده ستر ځواکونه به د نوظهوره کوچني ځواکونو په وړاندې سر ټیټ کړي. کوچني ځواکونه به په سترو ځواکونو بدل شي، ځکه ډیری ولس د دې بدلون غوښتونکي دي. د امریکا امپریالیستي ځواکونه له ستر څخه په کوچني بدلیږي، ځکه چي د امریکا خلک هم د خپل دولت څخه ناراضي دي.

زه د خپل عمر په اوږدو کي د دې ډول بدلونونو شاهد پاتي شوی یم. زموږ څخه ځینې چي دا وخت دلته حاضر یو، د تسین لړی پر مهال او پاتیو د ۱۹۱۱ انقلاب وروسته زوکړه کړی ده.

د تسین لړی ډیره موده وړاندې ړنګه شوی، خو د چا لخوا؟ د ولسونو په ملتیا د هغه ګوند لخوا چي د سون یاتسن له خوا یې لارښودنه کیده. د سون یاتسن ځواکونه هومره کوچني ول چي د تسین چارواکو هغه جدي ونه ګڼل. هغه ګڼ پاڅونونه رهبري کړل چي ټولو ماته وخوړه. خو په پای کي دا سون یاتسن و چي د تسین لړی یې د واک له ګدی لیري کړه. له سترو شیانو ښایي ویره ونلرو. ستر به د کوچني په وسیله ړنګ کړای شي. کوچنی به په ستر بدل شي. د تسین د لړی له ړنګیدو وروسته، سون یاتسن له ماتي سره مخامخ شو. هغه ونشو کړای د ولس غوښتني، لکه د ځمکي لپاره مطالبات او د امپریالیزم په وړاندې مبارزه پوره کاندي. سربیره پر دی، هغه ونشو

کړای د انقلابیون ضد کسانو د ځپلو اړتیا درک کړي چي دلته او هلته یې په آزادانه ډول سر راپورته کاوه. هغه د شمالي میلیتاریستانو د مشر یوان شی ـ کای له لاسه ماته وخوړه. د یوان شی ـ کای ځواکونه د سون یاتسن له ځواکونو ډیر وو. خو دلته یوځل بیا دا قانون په کار ولیده ـ هغه کوچنی ځواک چي له ولس سره اړیکه ولري، ځواکمن کیږي، په داسي حال کي چي ستر ځواک چي د ولسونو مخالف دی، کمزوره کیږي. نو د سون یاتسن بورژوا ـ دموکراتو انقلابیانو له مونږ کمونیستانو سره مرسته وکړه او له یو بل سره مو د میلیتاریستانو څرخ چي یوان شی – کای په حرکت اچولی و، مات کړ.

په چین کي د چانکایشک حکومت د ټولو هیوادونو د دولتونو لخوا په رسمت وپیژندل شو او دوه ویشت کاله یې عمر وکړ او ځواکونه یې له ټولو زیات وو. زمونږ ځواکونه کم وو، په لومړیو کي د ګوند غړي پنځوس زره کسان ول چي انقلابي ضد ځپلو وروسته یوازې څو زره کسان پاتی شول. دښمن هر چیرې فتنه وکړه. بیا دا قانون په کار ولید۔ ستر او پیاوړی په پای کي ماته خوري، ځکه چي له ولسونو جلا دی، په داسي حال کي چي کوچنی او ضعیف بریالی کیږي ځکه د ولس سره تړاو لري او د ولس د ګټو لپاره کار کوي. اوضاع په آخر کي په دې بڼه راڅرګنده شوه.

د جاپان ضد جګړې پر مهال، جاپان ډیر پیاوړی و. د ګومیندان سرتیري د هیواد دننه ته وشړل شول او هغه وسله وال ځواکونه چي د کمونیست ګوند لخوا یې لاربښودنه کیدله، یوازې توان درلود چي په کلیوالو سیمو کي د دښمن د کرښو شا ته په غلچکي جګړې پیل کړي. جاپان د چین لوي ښارونه لکه بیجینګ، تین سین، شانګهای، نانکن، اوهان او کانتون ونیول. نو جاپاني میلیتاریستان د آلمان د هیتلر په شان د څو کلونو په بهیر کي د همغې قانون سره سم، نابود شول.

مونږ زیاتي ستونزې ګاللي دي، له سویل څخه شمال ته وشړل شوو او ځواکونه مو د څو سوه زرو څخه لسګونو زرو ته راکم شول. د ۲۵۰۰۰ لی اوږده لاریون په پای کي زمونږ د کسانو شمیر یوازې ۲۵۰۰۰ و.

زمونږ د ګوند په تاریخ کي «کیڼ» او ښیي ناسمي مشی راڅرګندې شوی. چي له ټولو زیات د **چن دو ـ سیو** ښیي انحرافي مشی او د **وان مین** «کیڼ» انحرافي مشی زیانمني وی. سربیره پر دې د **جان ګو تائو** او **کائو کان** په وسیله ښیي تیروتني وشوی.

تیروتنه یو ښه اړخ هم لري. تیروتنه، ولس او ګوند د زده کړې تر لاندې نیسي. مونږ ښه منفي ښوونکي لکه جاپان، متحده ایالتونه، چان کایشک، چن دو ـ سیو، لی لی ـ سان، وان مین، جان ګو تائو او کائوکان لرلي دي. له دې منفي ښوونکو څخه زده کړه مونږ ته ډیره قیمته تمام شوی ده. انګلستان په تیرو کي په کراتو زمونږ پر ضد په جګړې باندي لاس پوري کړ. انګلستان، امریکا، جاپان، فرانسه، آلمان، ایتالیا، تزاري روسیه او هالند ټولو زمونږ له دې ټاټوبي سره زیاته لیوالتیا درلودلی ده. ټول یې زمونږ منفي ښوونکي او موږ یې زده کوونکو وو.

د مقاومت جګړې پر مهال، د جاپان ضد جګړې پر وخت زمونږ د سرتیرو شمیره زیاته شوه او ۹۰۰۰۰۰ نفرو ته ورسیده. بیا وریسي آزادي بخښونکی جګړه راغله. زمونږ وسلي د ګومیندان په پرتله کمزورې وی. هغه وخت د ګومیندان سرتیري څلور میلیونه کسان وو، خو د درې کلنی جګړې په موده کي د هغو له سرتیرو څخه مونږ ټولټال اته ملیون تنه نابود کړل. که څه هم د امریکا امپریالیزم د ګومیندان ننګه کوله، خو وی نشو کړای چي مونږ مات کړي. ستر او پیاوړی نشي کولای چي بریالی شي؛ دا تل کوچنی او کمزوری دی چي بریالی کیږي.

اوس د امریکا امپریالیزم ډیر ځواکمن دی، خو په واقعیت کي داسي نه ده. د امریکا امپریالیزم له سیاسي پلوه ډیر کمزورې دی، ځکه چي له خلکو جلا او د امریکا د ولس په ګډون د ټولو خلکو له بیزاری سره مخ دی. د امریکا

امپریالیزم په ظاهره ډیر پیاوړی دی خو په واقعیت کي داسي کوم  شئی نه دی چي ورڅخه ویره ولرو؛ د امریکا امپریالیزم کاغذي پړانګ دی. په ظاهره یو پړانګ دی، خو له کاغذ څخه جوړ شوی دی او د باد او باران په وړاندي ناتوان دی. زه باورمن یم چي متحده ایالتونه هیڅ شئی هم نه دی، خو یو کاغذي پړانګ دی.
تاریخ په ټولیزه توګه او د طبقاتي ټولني د زرګونو کلونو تاریخ دا نکته ثابت کړی دی ـ پیاوړی باید کمزوري ته تسلیم شي. دا حقیقت د امریکا د وچي په اړه هم سم دی.
سوله یوازي هغه وخت پاییدونکی ده چي امپریالیزم نابود شوی وي. د کاغذي پړانګانو د نابودی ورځ رارسیږي. خو هغوی په خپله نه نابودیږي. باید د باد او باران په شیبه کي وځپل شي.
کله چي وایو د امریکا امپریالیزم یو کاغذي پړانګ دی، له ستراتیژیک پلوه خبري کوو. که له کلیت پلوه هغه په نظر کي ونیسو باید سپک یې وګڼو. خو په هري برخي کي یې باید جدي ونیسو. هغه غاښونه او منګولي لري. مونږ هغه باید پوټي پوټي له منځه ویسو. د ساري په توګه که لس غاښونه لري، لومړی یې یو وباسئ، نهه یې پاتي کیږي. کله چي ټول غاښونه یې وویستل شول، بیا به هم منګولی ولري. که مونږ قدم په قدم او په جدیت سره له هغه سره مخامخ شو، قطعاً په پای کي به بریالي شوو.
مونږ له ستراتیژیک پلوه، د امریکا امپریالیزم په کلي ډول سپک ګڼو. له تاکتیکي پلوه باید هغه جدي ونیسو. د هغه په وړاندي مبارزه کي باید هره جګړه او هره مقابله جدي ونیسو. په اوس وخت کي متحده ایالتونه ځواکمن دي خو په پراخه لیدلوري کي، له کلي او اوږدمهال پلوه، د امریکا امپریالیزم ولسي ملاتړ نلري، له سیاستونو څخه یې خلک بیزاره دي، ځکه چي پر خلکو ستم کوي او تر زبیښاک لاندي یې نیسي. له دي امله دا پړانګ محکوم په نابودی دی. نو دا پړانګ هغه څه نه دی چي  ورڅخه ویریږو. باید هغه سپک وګڼو. خو نن متحده ایالتونه لا ځواک لري. هر کال څه باندي ۱۰۰ میلیون ټنه پولاد تولیدوي او هر ځای ته ضربه وهي. همدا یې لامل دی چي مونږ باید د هغه په وړاندي مبارزي ته ادامه ورکړو. په خپل ټول ځواک سره باید د هغه په وړاندي وجنګیږو او هغه له مورچل څخه مورچل ته په شا کړو؛ او دا وخت غواړي.
داسي ښکاري چي د امریکا، آسیا او افریقا د وچو هیوادونه تر پای پوري، تر هغه وخت پوري چي دا کاغذي پړانګ د باد او باران سره نابود شي، باید له هغه سره نزاع ته ادامه ورکړي.
د لاتیني امریکا د هیوادونو اروپایي توکمه خلک باید د امریکا امپریالیزم سره د مقابلي لپاره د ځایي سورپوټکو سره متحد شي. شاید اروپائي سپین پوټکي کډوال وکړای شوو په دوو ډلو وویشو. یوه ډله یې حکومتوال او بله یې حکومت منونکي. دا جلاتوب به د سیمه ایزو خلکو سره د ستم تر لاندي د سپین پوټکو ولسونو د نژدي والي لامل شي، چي د دواړو موقعیت سره ورته والی لري.
زمونږ دوستان په لاتیني امریکا، آسیا او افریقا کي له موږ سره په ورته موقعیت کي دي او ورته کار هم تر سره کوي ـ د هغه ستم د تخفیفولو لپاره کوښښ چي د امپریالیزم له لوري پر خلکو کیږي. په دي چاره کي مونږ سره ملګري یوو.
مونږ له تاسو سره د امپریالیستي ستم په مخالفت کي هم مضمون یوو او یوازي د جغرافیایي موقعیت، ملیت او ژبي له پلوه سره فرق لرو. خو مونږ له امپریالیزم سره ماهیتاً فرق لرو او ان د هغه لیدل هم موږ ته زړه بدي راپیښوي.
امپریالیزم څه ګټه لري؟ د چین ولس به هیڅ کله هم هغه و نه مني. د نړی پاتي خلک هم همدا ډول دي. د امپریالیزم د ژوندانه لپاره هیڅ  ډول دلیل نشته.

----

د لاتیني امریکا دوو ټولنیزو شخصیتونو سره د خبرو اترو یوه برخه